# د بادامو بوزغلی: د حشراتو کنټرول

ټيلفون: 0799-758-977 بريښناليك:**javid.hamidzada@rootsofpeace.org**




## د بوزغلي د مضره حشراتو د کنترول اصول

لومړنی هدهف د بادامو په بوزغلي کې د مضره حشراتو کنټرول دی چې  د ځواني ونې يا نيالګـي د وده کوونکي برخې وده خوندي کړي ترڅو چې سمې ونې ولرو.

1. کرونده په پرلپسي توګـه وڅارئ.
2. مضرې حشرې مخکې له دې کنټرول کړئ چې د څانګـو څوکي تخريب کړي.
3. ډاډ ترلاسه کړئ چې ور حشروژونکي مو ترلاسه کړي دي (هرکله د حشره وژونکو د مصؤن استعمال لپاره د توليدونکو کمپنيو لارښووني تعقيب کړئ.)
4. د هغو حشره وژونکو څخه ډډه وکړئ چې په غيرمستقيمه توګـه د حشراتو د ډيريدو سبب کيږي. د نمونې په توګـه مصنوعي پايريتايروئيدونه (pyrethyroids) هغه غوبې چې د سپږی خوري، تر فشار لاندې راولي او د سپږيو د ډيريدو لامل کيداې شي.




## د حشراتو ډولونه

ډيري مضره حشرې په لاندې ډول دي:

- حشرې لکه، غوباړې، سپږی، غوبې، کنې او جينجي (د پتنګـانو لاروا حالت)
- میکروبې اورګـانيزمونه  لکهکبټرياوې، فګـسونه، نيماتودونه او ويروسونه.
- بيکاره‌وبټې چې عبارت د هغو بوټو څخه دې چې پرته د اړتيا څخه را زرغونيږي.
- حلزونونه لکه اوښکی او ماما غوګـی
- د ملاتړ لرونکي  لکه مږې، موږکان او نور خوله لړوونکي ژوي او الوتونکي.




## د حشراتوکنټرول

د حشراتو د ستونځې د حل لپاره تاسې:

- بايد حشره، د حشرې د تخريب ډول او آيا داچې کنټرول يې ضرور دی او که نه، وپيژنئ.
- بايد وپوهيږئ چې ټکنټرول کومې لارې په کار راتلونکي دي.
- بايد د کنټرول د هرې لارې ګټې او تاوانونه و ارزوئ.
- بايد هغه ګـلاره ټاکئ چې هغه تړولو اغيزمنه وي او په عين حال کې خلکو او چاپيريال ته تړولو لږ زيان ورسوي.

د جان ډرايور، کورکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، د نړوالی د پرمختيا پرګـرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابلټيلفون 794677212 (0) 93+، zach@rootsofpeace.org
ددې خپرونې د محتوي مسؤليت په بشپړه توګـه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايې اتحاديې د نظر څرګـندويه نه ده.
د خپريدو حق  © UC Regents Davis campus، 2009 ميلاديېټول حقوق خوندي دي.

د ډيرو معلوماتو لپاره د: www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu مراجعه وشي